# جریده میــــزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

د تأسيس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

دو شنبه ۲۹ کب ۱۴۰۱ هـ ش | ۲۷ شعبان المعظم ۱۴۴۴ هـ ق | ۲۰ مارچ ۲۰۲۳ م | مسلسله شمېره (۳۰)


**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وي ، نو د نړۍ ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام ، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کيده.
تفسير کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

## د سترې محکمې د عالي شورا ۱۸ مه غونډه ترسره شوه

د چهارشنبې په ورځ (۱۴۴۴/۸/۲۲ هـ ق) نېټه د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د رئيس او قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا ۱۸ مه غونډه ترسره شوه.

د سترې محکمې د عالي شورا په دې ناسته کې چې د سترې محکمې د رئيس او قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب په مشرۍ د ترتيب سره سمه جوړه شوې وه د عالي شورا غړو محترم شيخ محمدقاسم (راسخ)صاحب، محترم شيخ عبدالمالک (حقاني) صاحب، محترم شيخ خيرجان (خيرخواه) صاحب، محترم شيخ محمد شريف (حقاني) صاحب او محترم مفتي عبدالرشيد (سعيد) صاحب ګډون درلود.

د عالي شورا دغه غونډه د قرانکريم د څو مبارکو اياتونو په تلاوت پيل شوه؛ ورپسې د غونډې په اجنډا کې د شاملو (۱۷) مهمو موضوعاتو په اړه تر تفصيلي خبرو وروسته د يادو موضوعاتو اړوند فيصلې صادرې شوې.

ياده ناسته د دعاء په ويلو سره پای ته ورسېده.

## سرپل ولايت کې د مقتول کورنۍ يوه قاتل ته ببنه وکړه

د جمعه په ورځ(۱۴۴۴/۸/۲۴ هـ ق نېټه) د سرپل ولايت په مرکزي سټېډيوم کې د سترې محکمې د يوه لوړ رتبه پلاوي په ترغيب د مقتول کورنۍ يوه قاتل ته چې درې ګونو محاکمو پرې د قصاص حکم صادر کړی و بخښنه وکړه.

د جنت ګل په نوم دغه قاتل د ارسلان زوی د سرپل ولايت د سيدآباد ولسوالۍ فعلي اوسېدونکی و.

نوموړي د شرف الدين په نوم يو کس چې د خان آغا زوی او د سرپل ولايت د سيدآباد ولسوالۍ اوسېدونکی و، عمداً په قتل رسولی و.

دغه موضوع د اسلامي امارت محاکمو ته له راجع کېدو وروسته د اسلامي امارت د درې ګونو محاکمو (ابتدائيه، استيناف او تميز) لخوا په ډېر دقيق ډول وڅېړل شوه چې د هرې محکمې لخوا پرې د قصاص حکم صادر شو.

وروسته دغه حکم د اسلامي امارت د زعيم عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله حضور ته د تائيد لپاره وړاندې شو.

د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله لخوا هم د دې موضوع په اړه د وروستي احتياط په منظور فوق العاده څېړنه وشوه او له علماء کرامو سره په يوه ستره مجموعه کې پرې بحث وشو چې په پای کې يې پر قاتل د قصاص شرعي حکم تائيد او د هغه د تطبيق امر يې وکړ.

په هغه غونډه کې چې په همدې مناسبت جوړه شوې وه د سترې محکمې قضائي معاون محترم شيخ محمدقاسم (راسخ)، د سترې محکمې د نظامي منسوبينو دېوان رئيس محترم شيخ خيرجان خيرخواه، د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رئيس محترم مفتي عبدالرشيد (سعيد)، د سترې محکمې د نظامي منسوبينو دېوان مفتي محترم شيخ حيات الله (ثابت)، د سرپل د استيناف محکمې محترم رئيس، د سرپل محترم مرستيال والي او د اسلامي امارت ګڼ شمېر نورو مسؤولينو هم برخه اخيستې وه.

د سترې محکمې څخه راغلي ياد پلاوي د قصاص الهي حکم له تطبيق څخه مخکې د مقتول کورنۍ ته ترغيب ورکړ او له هغوی يې قاتل ته د بخښنې هيله وکړه.

د مقتول کورنۍ او وارثينو د سترې محکمې د پلاوي او قاتل د کورنۍ د غړو ياده هيله ومنله او قاتل ته يې په خپله خوښه او رضا ببنه وکړه.

غونډه په هېواد کې د سرتاسري امنيت د لاټينګښت، د خلکو شرعي حقونو ته د لا رسېدا او د اسلامي شريعت د لا ښه تطبيق لپاره په دعاء او د مقتول د وارثينو لخوا د قاتل په بخښنه پای ته ورسېده.

## له ملي ټلويزيون سره د سترې محکمې د مرستيال وياند مولوي عنايت الله صاحب تازه مرکه

**۱. پوښتنه:** په سر کې که له تاسو وپوښتم چې د اسلامي امارت له بيا واکمنۍ وروسته د سترې محکمې لاسته راوړنې څه دي؟

**ځواب:** د اسلامي امارت د بيا واکمنۍ وروسته الحمدالله د اسلامي امارت محاکم ډېر فعاليتونه او ښې لاسته راوړنې لري چې زه به يې د نمونې په شکل د څينو لنډه يادونه وکړم:

۱. اول راځو د محاکمو د تشکيل موضوع ته، دا چې د تير نظام په وخت کې صرف په ښارونو کې محاکم فعال ؤ، چې هغو په پوره شل کاله کې ونسوکولای چې د هېواد په ټولو ولسواليو کې محاکم فعاله کړي؛ خو الحمدالله د اسلامي امارت په راتګ سره په اول تشکيل کې د هيواد د ولايتونو په ټولو ولسواليو کې د محاکمو تشکيل تکميل شو او خپل فعاليتونه يې پيل کړي چې اوس هيوادوال په پوره اطمينان سره خپل اړوند محکمې ته عريضې او دوسيې وړاندې کوي او خپل حق و عدالت ترلاسه کوي.

۲. دوهم د محاکمو د استقلال موضوع ده دا چې تاسو ته بهتره معلومه ده چې د تير نظام په وخت کې د رشوتونو، واسطو او زورواکيو له وجې د محاکمو استقلاليت له ستونزو سره مخ ؤ، چې په نتيجه کې د هيوادوالو پر محاکمو باور او اعتماد کم کړی ؤ، خو د اسلامي امارت په راتګ سره محاکمو خپل استقلاليت ترلاسه کړی؛ او هيڅ ملکي يا نظامي مسؤل حق نلري چې په محاکمو يا قضاتو په چارو کې مداخله وکړي.

۳. درېيم داچې اوس په ټولو محاکمو کې فساد له منځه وړل سوی دی . محاکم په عدالت او انصاف سره حق حقدار ته رسوي، د هيچا واسطو او شخصي غوښتنو ته اعتبار نه ورکول کېږي.

او اوس وکيلان، وزيران، خانان، غريبان او بې واسطې خلک علی السويه پرته له امتياز د محاکمو څخه خپل مشروع حقوق ترلاسه کولی شي.

۴. څلورم بايد ووايم چې د اسلامي امارت تر راتګ وروسته د هيواد په ټولو محاکموکې په ډير لوړ تعداد قضيو ته رسيدګي سوې ده ، تقريباً د ۲۲ زره ۸سوه قضيو په اړه مکتوبي احراآت سوي دي، او۱۰۰ کم ۸۰ زره قضيو ته رسيدګي سوې ده، يعني حل سوې دي، او نورې څه دپاسه ۵۰ زره تر کار لاندې دي. دا په داسې حال کې ده چې د تېر نظام په وخت کې په دومره موده کې دغه تعداد قضيو ته رسيدنه نه وه سوې.

۵. او پنځم د اختصاصي محاکمو فعالول دي، د تير نظام پر مهال چې کومې دوسيې فيصله سوې وې، هيوادوالو يې په اړه ډېر شکايتونه درلودل چې د عدالت او شريعت مراعت ندی پکې سوی د اسلامي امارت سترې محکمې د هغو فيصله سويو قضيو لپاره چې تر اوسه تطبيق شوې نه وې اختصاصي محاکم فعال کړې، چې د مراجعې په صورت کې هغه فيصلې اختصاصي محکمې ته وړاندې کېږي ، هلته يې قضائي هيئت ګوري که چيرې فيصلو کې شرعي نواقص موجود وي ؛ نو له سره

پاتې برخه ۲

**د شريعت مأخذونه**

**څلورمه برخه**

د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د مبعوث کېدو اړين هدفونه:

الله تعالی د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د مبعوث کېدو يو لوی هدف دا دی چې د قرآنکريم آياتونه د الله بنده ګانو ته بيان او د معناګانو تفسير يې ورته وکړي او هغه څه ور وښايي چې د الله تعالی مراد وي، لکه څرنګه چې الله تعالی فرمايي:ژباړه: اوس مو دغه ذکر (قرآن) پر تا نازل کړی دی چې ته خلکو ته هغه ښوونه تشريح او توضيح کړې چې د هغو لپاره نازل کړل سوې ده. [سورة النحل ۴۴ آيت]

او همدارنګه الله تعالی د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د مبعوث کېدو څخه بل هدف دا دی چې مؤمنانو ته د الله تعالی کتاب (قرآنکريم) ور زده کړي، يعنې داسې زده کړه چې د الله (جل جلاله) مراد پکښې واضح سوی وي او د خلکو لپاره د الله تعالی د احکامو په عملي کولو او ځان کې راوستلو په موخه يوه غوره نمونه وړاندې کړي، لکه څرنګه چې الله تعالی فرمايي: ژباړه: همغه ذات دی چې په اُميانو ناپوهانو کې يې پيغمبر په خپله له همغوی څخه را وپاخوه، چې هغو ته د دغه (قُرآن) آياتونه لولي، د هغوی ژوند سپېڅلی کوي او هغو ته د کتاب او حکمت ښوونه کوي. په داسې حال کې چې له دې څخه مخکې هغوی په څرګنده ګمراهۍ کې غورځېدلي وو. [سُورَةُ الجُمُعَة : ۲]

نو د ټولو سنتو پيروی هغه که د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د اقوالو، افعالو او يا تقريراتو څخه وي واجبه ده، له دې امله چې دا سنت خپله د قرآنکريم تفسير او بيان دی او د دين په باب کې شرعي دليل دی او څکه د سنتو منکر د قرآن منکر ګڼل سوی دی او دا سنت داسې حجت او دليل دی چې د ټولو علماوو پرې اتفاق دی.

اخذليک: تتمة النظام، ۲۴ صفحه، تألیف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحيم راشد

## له ملي ټلویزیون سره د سترې محکمې......

جریان تـه لویږي او حـق حقـدار تـه سپارل کیږي.

۶ـ او دغه ډول د غصب املاک محکمه جوړه سوې او فعاله سوې ده چې لـه ډېرو غاصبینو یـې غصب سوې ځمکـې راګرځولي، چې د دې اهمیت مظلومو هیوادوالـو او د تېرې اداري بې وسه واکدارانو تـه بهتره معلومـه ده چې زورواکو د مظلومـو هېوادوالـو ډېرې شـخصي ځمکې غصب کړي وې او د تېرې اداري د ناتوانۍ او فسـاد لـه املـه ډېرې دولتـي ځمکې غصب کـړې وې.

پـه کل کې د اسلامي امـارت تر راتګ وروسـته سـتره محکمه ډېر د پام وړ فعالیتونـه لـري چې ځینې مـو د نمونې په شـکل ذکـر کـړې.

**۲ـ پوښتنه:** د سـترې محکمـې نهـه ګونـي دیوانونـه د پخـوا پـه شـان اوس هـم فعـال دي او کـه زیـات وکم پکې راغلي دي؟

**ځـواب:** پـه سـتره محکمـه کې اوس پنځـه دیوانونـه کارکـوي۔ دلتـه چې مخکې کـوم دیوانونه وؤ، لکـه: دیوان حقـوق عامه، دیوان خشـونت علیه زن و تخلفات اطفال او دیوان رسیدګي بـه جرائـم علیـه امنیـت داخلي و خارجي ؛ د دې ټولو دیوانونو ټـول موضوعـات په اوسـني تشـکیل کې دغه پنځـه دیوانونه ته علی التناسـب تقسـیم سوي دي.

**۳ـ پوښتنه:** د قضایـاوو پـه حـل او فصـل کې تاسـو د جـزا لـه کـوډ څخـه اسـتفاده کـوئ، یـا د فتـواوو پـه آسـاس حکـم صـادروئ؟

**ځـواب:** د اسـلامي امـارت پـه محاکمـو کې زمـوږ قاضیـان د جـزاء لـه کوډونـو څخـه اسـتفاده نکـوي، ځکـه یـو هغـه جزاګانې دي چې هغـه پـه نصوصـو ثابتې دي چې تغیر نسـي پکښـې راتللی لکه: قصاص او حـدود او بل هغه جزاګانې دي چې تعذیـرات ورتـه ویل کیږي . هغـه د جرم، او مکان و زمان سـره تفـاوت کـوي، پـدې اسـاس پـه شـریعت دغه اصـل ته په کتلـو سـره تعذیـرات وضعه کـوي چې دغه تعذیـرات مختلف انـواع لـري لکـه: حبـس، ضـرب، وینـا او نور...

نو د شریعت د حنفي فقهې موافق جزاګانې ورکول کیږي.

**۴ـ پوښتنه:** د نورو اسـلامي هیوادونو د قضایي سیسـتم سـره ستاسـو اړیکـه څه ده؟

**ځـواب:** مـوږ الحمدالله جامـع اسـلامي قوانیـن او پـوره باکفایتـه مذهـب لـرو چې پـه شـرعي احکامـو کې کـوم بـل چاتـه اړتیـا نـه لیـدل کیږي.

**۵ـ پوښتنه:** آیـا پـه تېـر یـو نیـم کال کې تاسـو سـتاژ قضایـي درلـود یـا نـه؟

**ځـواب:** مـوږ لنـډ مهاله سـیمنارونه ډېـر لرو خو د قضاء سـتاژ دوه کلـن پروګـرام پـه فقهـه او قضـاء کې اوس پـه کندهار کې شـروع دی او جریـان لري.

**۶ـ پوښتنه:** قضات تاسو په کومو شرائطو مقرروئ؟

**ځـواب:** د قضاتـو د تقـرر لپـاره یـوه ځانګـړې کمیټـه جـوړه سـوې چې هغې تـه د قضاتـو د ټاکلو لپـاره طرزالعمل ښـودل سـوی دی، چې ځینې مهـم شـرائط یـې دا دي: دیانـت، امانتـداري، وفـاداري، اهلیـت، او ښـه اسـتعداد لـرل او د دې ترڅنـګ د هغـه سـابقه پـه دقیـق ډول کتـل د قضـاء او عدالت اهمیـت د هیڅـا څخـه پـټ نـدی تاسـو ته ښـه معلومـه ده چې قضـاء یـو سـپېڅلی منصب دی، ځکـه د قضاةُ په ګومارلو کې حتی الوسـع ډېـر دقـت څخـه کار اخسـتل کیږي.

**۷ـ پوښتنه:** اکثـره هیـوادوال محاکمـو څخـه شـکایت لـري چې هلتـه د دوی موضوعـات ډېـر ځنډېږي حتـی ځیني خلکو تـه نوبـت بیخـي تر میاشـتې اوړي د دغې سـتونزې د حل لپاره تاسـو څـه کـړي او د راتلونکې پـه اړه څـه پـلان لرئ؟

**ځـواب:** هـو! د ځنـډ څـه سـتونزه بـه وي؛ د هغـه علـت او لامـل همـدا وو، چې د تیـر نظـام ناخوالي او سـتونزې موږ ته راپاتـه شـوي، چې پـه محاکمـو کې ډېـر غیر اصولي و شـرعي جریانـات ترسـره شـوي ؤ.

خو لله الحمد د افغانسـتان اسـلامي امارت مشـرتابه او سـتره محکمـه محاکمـو تـه ډېـره توجـه لـري، چې د دې سـتونزې د هـواري لپآره څـه مـوده مخکې د اسـلامي امـارت د مشـرتابه لـه طرفـه هدایـت صـادر شـوي ؤ، چې د سترې محکمې لـه طرفـه ټولـو محاکمـو تـه د متحدالمال په شـکل واسـتول شـو، چې ابتدائیـه محکمې بـه دوسـیې پـه یـوه نیمـه میاشـت کې خیـړي، او مرافعـه محکمـه بـه د شـلو ورځـو څخـه تـر یـوې میاشـتې پـه مـوده کې دوسـیه څیړي، او د تمیز ریاسـت بـه هم د شـلو ورځـو څخـه تر یوې میاشـتې مـوده کې دوسـیه څیړي، کـه اجراآت ونشـي ؛ نـو قاضي بـه سترې محکمې تـه معقول او مشـروع عـذر وړانـدې کوي.

دې سـره بـه دوسـیو کې د ځنـډ سـتونزه تـر ډېـره حـل شـي ان شاءالله

بلـه داچې پـدې وروسـتیو کې دیوانونـه پر دوه څانګو وویشـل شـو چې اوس الحمدالله د محاکمـو کارونـه ډیـر پـه تیـزۍ سـره روان دي.

**۸ـ پوښتنه:** د حـدودو د تطبیـق لپـاره څومـره شـرائط مسـاعد دي؟

**ځـواب:** سـتره محکمـه او ټول محاکـم مکلفیت لري چې ټول شـرعي احـکام او فیصلې په پوره توګه تعمیـل او اجراء کړي، حـدود او قصـاص د اجـراء اهمیـت ضـرورت او حکمتونـه چې عاقـل انسـان تـه ډېـر ښـه معلومېږي، لکـه الله تعالی چې فرمایـي: (وَلَكُمْ فِى الْقِصَاصِ حَيَاةٌ يَاأُولِى الْأَلْبَاب) د اوسـني عصـر واضـح مثـال یـې د تېر امـارت دوران دی، چې د یو څو محـدودو حـدودو پـه اجـراء سـره په افغانسـتان کې داسې امن راغلـی ؤ چې نـړۍ یـې پـه اوسـني عصـر کې د مثـال وړاندې کولـو څخـه عاجـزه ده. چونکـه د قصاص او حـدود د موجب جرائـم ډېـر سـخت دي، نـو ځکـه یـې شـواهد او ثبوتونـه ډېـر دقـت غـواړي، نـو حـدود کـه پـه شـرعي طریقـه ثابـت شـي او فیصلـه د خپلـو شـرعي اصولـو سـره سـمه لیـکل شـوې وي، د مشـرتابه تـر نظـر وروسـته اسـلامي امـارت یـې پـه اجـراء کې هیڅ مانـع نلري.

څرنګـه تاسـو چې خبـر یاسـت څـه مـوده مخکې پـه فـراه ولایـت کې پـه یـوه قاتـل شـرعی قصـاص تطبیـق سـو، او پـه جوزجـان ولایـت کې د شـرعي فیصلې تـر تکمیل وروسـته پـه علني قضایـي جلسـه کې د والي د معاون له خـوا د خپل پلار قاتل وبښـل سـو.

**۹ـ پوښتنه:** ځینې وخـت بعضې هیـوادوال د محاکمـو پـه اړه شـکایتونه لـري او غـواړي خپـل دغـه شـکایتونه د سترې محکمې لـه مشـرانو سـره شـریک کړي، تاسـو د دې لپـاره څه زمینـه مسـاعده کـوئ؟

**ځـواب:** زمـوږ هیـوادوال چې د هـرې سـیمې هـر ولایـت او هـرې ولسـوالۍ څخـه وي، کـه د محاکمـو اړونـد معقـول شـکایت او یـا د قضیـې پـه حل کې کومه سـتونزه ولري کولای شي چې پـه آسـانۍ سـره سترې محکمې تـه خپـل شـکایت ورسـوي، مـوږ دلتـه (سـتره محکمـه کې) د هـر ریاسـت لپاره د شـکایتونو او عرایضـو د ثبـت غرفې/نمایندګۍ لـرو، چې د مربوطـه معاونیـت یـا ریاسـت سـره د خلکـو سـتونزې او غوښـتنې شـریکوي.

**۱۰ـ پوښتنه:** د وثایقـو پـه اړه کـه هیوادوالـو تـه معلومـات ورکـړئ چې د قبالـو موضـوع څنګـه سـوه او بعضې خلـک د نـکاح خطونـو، او خارجي وکالت خطونو په اړه پوښـتنې لري چې د هغـو اجـراء څـه ډول کیږي؟

**ځـواب:** پـه عمـوم کې د وثایقـو ورکولـو کې سـتونزو نشـته، پـه اصولـو ورکـول کیږي، البتـه تاسـو د بعضې وثایقو خاص یادونـه وکـړه، ستاسـو ځـواب کې بایـد دا ووایـم چې د شـرعي قبالـو د وېش پـه اړه بـه سـتره محمکـه ډېـر ژر یـو مشـخص وخـت معیـن کـړي.

**فرعـي پوښـتنه:** د نـکاح خطونـو په اړه خلک له ځینو سـتونزو شـکایت کـوي، هغـوی ته که پـه دې اړه وضاخت ورکړئ!

**ځـواب:** د نـکاح خطونـو د اخسـتلو پـه اړه اوس څـه سـتونزه نسـته، هېـوادوال کولـی سـي، چې مربوطـه مرجـع تـه ورسـي، او پـه اصولي او شـرعي طریقـه نـکاح خطونـه ترلاسـه کـړي.

**فرعـي پوښـتنه:** د خارجي وکالت خطونو پـه اړه که معلومات راکـړئ، چې د هغـو د اجـراء طریقـه څـه ډول ده، او هغـه خلـک چې لـه هېـواد نـه دباندې یـې وکالت خطونـه جوړ کړي دلتـه پـه محاکمـو کې د خارجي وکالتو په اړه له سـتونزو مخ کیږي، چې اعتنـاء نه ورتـه کیږي.

**ځـواب:** د خارجي وکالـت خطونـو پـه اړه بایـد ووایـم چې کلـه مدعي پـه خـارج کې اوسېږي او دلتـه خپـل هیـواد کې موضـوع څېړلـو تـه نشـي حاضریدلی ، نـو مجبـوراً وکیل نیولو تـه اړکیـږي ، خـو سـتونزه داوي چې زمـوږ محاکماتـي اصولو کې هغـه وکالـت خـط معتبر دی چې په شـرعي محاکمو کې پـه شـرعي او اصولي طریقـه جـوړ سـوی وي، خـو د دې لپاره فعـلاً دوې لارې دي:

۱ـ لومـړۍ طریقـه دا ده: چې دغـه کـس دې سـفارت خانې یا قونسـلګرۍ سـره په ارتباط کې شـي، چې کله دوه کسـان خپل هېـواد تـه راځـي د هغـه ملـک څخـه چې دغـه مدعي په کښې وي، نـو د هغـو دوو کسـانو پـه حضـور دې دغـه کس اقـرار وکـړي چې فـلان بـن فـلان بـن فـلان زمـا د زیـد بـن بکـر بـن خالـد مثـلاً وکیـل دی ، پـه دغـه خاصـه موضوع کې او یا عام او تـام وکیـل دی او وکالـت خـط بـه ولیکي او دغـه راتلونکي کسـان بـه شـاهدان کـړي، نو دغـه راتلونکي کسـان چې راشي نـو مربوطـه محکمې تـه دې حاضر شـي نـو مدعـي بالوکالة به دعـوه د وکالـت وکـړي پـه محکمـه کې په حضـور د خصم او طلـب د حـق د مـؤکل دې وکـړي د مدعـي علیـه څخه نو دغه شـاهدان دې د ده په غوښـتنه د وکالت د اثبات لپآره شـاهدي اداء کـړي چې دغـه مذکـور مـؤکل چې د پـلار او نیکـه نوم به یـې ذکـر کـړي دغـه فـلان کـس وکیـل کـړی دی او دغـه یـې وکالـت خـط دی چې مـؤکل اقـرار پـه کې کـړی دی.

او بلـه طریقـه: کـه چیـرې مدعـي علیـه پـه حضـور د قاضـي کې د بکـر پـه حق کښې ومني چې دغـه وکیـل دی د مدعي بالاصالـة نـو بیـا یـې وکالـت ثابـت دی اګـر چې د ده توکیـل خـارج د محکمې څخـه شـوی وي.

**آخرکې پیغام:**

مـوږ ټولـو هېوادوالو ته د افغانسـتان اسـلامي امارت د قضائیه قـوې د خپلواکـۍ ډاډ ورکـوو چې هیڅ نظامي یا ملکي مسـؤل د محاکمـو یـا قضاتـو پـه چـارو کې مداخله نشي کولی، تاسـو په پوره اطمنان سـره عدالت ترلاسـه کولای سئ.

خـو د هیوادوالـو څخـه مو غوښـتنه دا ده چې تاسـو تـه معلومه ده چې د اسـلامي امـارت پـه راتـګ سـره پـر محاکمـو د عریضـو او فیصلـو هجـوم ډېـر زیـات سـوی دی، ځکـه چې اوس د محاکمـو د اسـتقلال د وجې هیـوادوال پـر محاکمـو پـوره بـاور او اعتمـاد لـري، او هـر څـوک پـه پوره اطمنان سـره د اسـلامي امـارت محاکمـو څخه د عدالت ترلاسـه کولو لپاره مراجعـه کـوي؛ نـو د ولـس څخـه مـو غوښـتنه دا ده چې پـر خپـل وخـت دواړه جانبیـن د دوسـیو د څېړلـو لپـاره حاضـر شـي، خـو اکثـر غاصبین، جنایت کاران له وطنه تښـتېدلي دي چې د محکمې د جریاناتو د ځنډ لامل ګرځېدلي دي. ۲ ــ او بـل دا چې اسـلامي حکـم تـه لبیـک ووایـي، طبعي ده چې د فیصلـه کولـو پـه صـورت کې بـه یـو جانـب قضیـه بایلي او یو طـرف بـه یـې ګټـي؛ نـو د قضیـې د بایللـو پـه صـورت کې دې لـه نـاوړه تبلیغاتـو څخـه ډډه وکـړي.

## په لوګر ولایت کې د قضائي او امنیتي ارګانونو تر منځ د همغږۍ میاشتنۍ غونډه ترسره شوه

پـه ۱۴۴۴/۸/۱۹ هــ ق نېټـه د لوګـر ولایـت مقـام پـه ریاسـت کې د لوګـر د قضائـي، عدلـي او امنیتـي ادارو د مسـؤولینو ترمنـځ د همغـږۍ د تقویـې پـه موخـه میاشـتنۍ ناسـته ترسـره شـوه .

یـاده ناسـته چې د لوګـر والـي محتـرم مولـوي قـدرت اللـه (امینـي)، د اسـتیناف محکمـې رئیـس محتـرم مولـوي روح اللـه (عبدالسـلام)، امنیـه قومنـدان محتـرم مولـوي محمـد انشـأ (مخبـت)، د لوګـر ولایـت د اسـتخباراتو رئیـس محتـرم مولـوي شـاهین، د لوګـر ولایـت مقـام د دفتـر رئیـس محتـرم مولـوي میرویـس، د منصـوري قـول اردو د څلورمې پلې لیـوا قومانـدان، د قطعـه خـاص قومانـدان، د تروریـزم او کشـف مدیرانـو او یـو شـمېر نورو ځایي مسـؤولینو په کې ګډون کړی و، د قرآنکریـم پـه تـلاوت سـره پیـل شـوه.

وروسـتـه د لوګـر ولایـت د دفتـر رئیـس مولـوي میرویـس د دې غونـډې پـه موخـو او اهدافـو وغږیده.

وروسـته د لوګـر ولایـت د اسـتیناف محکمـې رئیـس محتـرم مولـوي روح اللـه عبدالسـلام د مجلـس حاضرینـو تـه د ادارو ترمنـځ د همـکارۍ او همغـږۍ پـه ګټو هر اړخیزه رڼا واچوله.

نومـوړي وویـل، قضائیـه او اجرائیـه قـوې د هـر نظـام لـه اساسـاتو څخـه دي، مـوږ ټـول د یوې ونې ښـاخونه یو چې هر یـو لـه مـوږ څخـه د الله عزوجل، نظـام او ولس پـر وړاندې تر خپلـې اندازې مسـؤول او مکلـف یـو، یـو طـرف تـه کـه د یـوه مجـرم تعقیـب، کشـف او نیـول د امنیتي ادارو مسـؤولیت دی بلخـوا د همدغـه مجرمینـو د جـرم اثبـات او دوی تـه د سـزا ورکـول د محاکمـو کار او دنـده ده.

د لوګـر د اسـتیناف محکمې رئیـس زیاتـه کـړه، د الله عزوجل د قانـون، اسـلامي نظـام او جامعې پـر وړاندې هر مجـرم باید د عدالـت میـز تـه راکـش کـړل شـي، پـه ټولـو بایـد یـو ډول عدالـت پلـی شـي او د اسـلامي عدالـت پـه پلـي کولـو کې باید د هیچـا پـروا ونه سـاتل شـي.

وروسـتـه د لوګـر ولایـت د امنیتـي ادرارو او د لوګـر د قضائـي پـلاوي ترمنـځ د قضائـي او امنیتـي ادارو پـه مشـترکو موضوعاتـو، د سـتونزو پـر حـل او مشـکلاتو تـه د رسـېدنې پـه لارو چـارو پـراخ بحـث وشـو.

پـه پـای کې د لوګـر والـي محتـرم مولـوي قـدرت اللـه امینـي د مجلـس حاضرینـو تـه وینـا وکـړه :

نومـوړي د لوګـر د امنیتـي ادارو لـه مسـؤولینو څخـه د لوګـر د اسـتیناف محکمې سـره پـر لا او زیاتې همکارۍ ټینګار وکړ، د ناسـتې لـه ګډونوالـو د مننې ترڅنـګ یـې د یـادو غونـډو د دوام غوښـتنه وکـړه.

# گزارش‌های اجراآت قضائی محاکم برخی از ولایات کشور

## د پکتیا محاکمو په دوو اونیوکې د (۱۱۱) دوسیو پر حل او فصل سربېره (۸۸) وثیقې اجراء کړې دي

په دغه راپورکې د پکتیا ولایت د مرافعه محکمې، وثایقو، د ښاري ابتدائیه محکمې، د پکتیا زون ابتدائیه نظامي محکمې او ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو د تېرو دوو اونیو (له ۱۴۴۴/۸/۱ هـ ق څخه تر ۱۴۴۴/۸/۱۴ هـ ق) نېټې حقوقي، جزائي او تجارتي اجراآت شامل دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په تېرو دوو اونیو کې (۵۳) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې دي، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې او تر کار لاندې وې.

له دې جملې څخه (۱۰) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۴۸) دوسیو په اړه قضائي قرار صادر شوی، (۲۱) دوسیې فیصله شوې دي او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په تېرو دوو اونیو کې (۶۲) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې دي، په داسې حال کې چې مخکې هم ځینې دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۵) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۵) دوسیو په اړه قضائي قرار صادر شوی، (۲۲) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي. دغه راز په یاده موده کې (۸۸) بېلا بېل وثایق هم اجراء شوي دي.

## طی دو هفته در دواوین محکمهٔ ابتدائیهٔ زون اول شهر کابل ۱۱۳ دوسیه حل و فصل شده‌است

گزارش اجراآت دو هفته بخش‌های جزائی و حقوقی دواوین مربوطهٔ محکمهٔ ابتدائیه زون اول شهر کابل از تاریخ ۱۴۴۴/۸/۱ هـ ق الی ۱۴۴۴/۸/۱۵ هـ ق به شرح ذیل مواصلت ورزیده است.

**۱. دیوان جزاء آن محکمه:**

در جریان دو هفته به تعداد (۵۱) دوسیه به این دیوان مواصلت ورزیده‌است؛ در حالی‌که قبلاً نیز چند دوسیه موجود بود.

از آن جمله به تعداد (۱۲) قضیه فیصله شده، پیرامون (۲۶) قضیه توسط قرارقضائی اجراآت شده، (۹) قضیه (۳۴) قضیه توسط قرار قضائی اجراآت شده، (۵) قضیه آن مکتوبی مسترد گردیده‌است و متباقی آن تحت دوران قرار دارد.

**۲. دیوان امنیت عامهٔ آن محکمه:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۹) دوسیه به این دیوان مواصلت ورزیده‌است؛ در حالی‌که قبلاً نیز چند دوسیه موجود بود.

از آن جمله به تعداد (۵) قضیه فیصله شده، پیرامون (۲۶) قضیه توسط قرارقضائی اجراآت شده، (۹) قضیه آن مکتوبی مسترد گردیده است و متباقی آن تحت دوران قرارداشته است.

**۳. دیوان مدنی آن محکمه:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۷۵) دوسیه به این دیوان مواصلت ورزیده‌است؛ در حالی‌که قبلاً نیز چند دوسیه موجود بود.

از آن جمله به تعداد (۳) قضیه فیصله شده، پیرامون (۹) قضیه توسط قرار قضائی اجراآت شده، (۵) قضیه آن مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت دوران قرار دارد.

**٤. دیوان ترافیک آن محکمه:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳) دوسیه به این دیوان مواصلت ورزیده‌است؛ در حالی‌که قبلاً نیز چند دوسیه موجود بود.

از آن جمله پیرامون (۵) قضیه توسط قرار قضائی اجراآت شده است و متباقی دوسیه تحت دوران قرار دارد.

## طی دو هفته در محاکم ولایت سمنگان علاوه بر حل و فصل (۹۷) دوسیه به تعداد (۸۰) قطعه وثایق نیز اجراً شده است

اجراآت دو هفته از تاریخ ١٤٤٤/٧/٢٧ هـ ق الی ١٤٤٤/٨/٩ هـ ق ریاست عمومی محاکم استیناف ولایت سمنگان شامل دواوین استیناف، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری، آمریت ثبت اسناد وثایق و مخزن و محاکم ابتدائیه ولسوالی‌های این ریاست در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق قرار ذیل می‌باشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (٦٠) دوسیه وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه چندین دوسیه نیز قبلاً تحت دوران قرارداشت.

از آن جمله (٢٩) دوسیه فیصله شده، پیرامون (٣٣) دوسیه توسط قرار قضائی اجراآت شده، (٦) دوسیه طی مکتوب مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت‌کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (٣٦) دوسیه وارد محاکم گردیده؛ درحالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرارداشت.

از آن جمله (١٠) دوسیه فیصله شده، پیرامون (١٤) دوسیه توسط قرار قضائی اجراآت شده، (٥) دوسیه طی مکتوب مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت‌کار میباشد.

همچنان در این مدت به تعداد (٨٠) قطعه وثایق مختلف النوع اجراء گردیده است .

## د بلخ د مرافعه، ښاري او ولسواليو محاکمو د رئیسانو ترمنځ اداري ناسته ترسره شوه

د پنجشنبې ورځ (١٤٤٤/٨/١٦هـ ق نېټه) د بلخ ولایت د استیناف محکمې په ریاست کې د دې محکمې د عمومي رئیس محترم مولوي محمدیوسف (ابوالوفاء) په مشرۍ د محاکمو د مسؤولینو ترمنځ اداري ناسته ترسره شوه.

یاده غونډه چې د استیناف محکمې د ټولو دېوانونو رئیس صاحبانو، مفتیانو، محررینو، د مخزن او وثایق آمر، د تحریراتو رئیس، د ښاري محکمې رئیس او د دېوانونو رئیس صاحبانو، د ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو رئیسانو او مربوطه غړو په کې ګډون کړی وو د محترم مولوي صاحب عبدالسلام(مظهري) لخوا د کلام الله په تلاوت او د الله (جل جلاله) په ثنا او صفت سره پیل شوه.

وروسته د استیناف محکمې رئیس (ابوالوفأ) حاضرینوته د قضائي او اداري مسؤلیتونو په اړه لاندې لازمې اومهمې سپارښتنې وکړې:

١. د محاکمو رئیس صاحبان باید په هره موضوع کې له خپلو قضائي همکارانو سره تر مشورې او موافقې وروسته تصمیم ونیسي، له خپلو همکارانو او کارکوونکو سره باید همغږي ولري.

٢. کله چې مرافعه محکمه له ابتدائیه محکمې څخه د مدعی یا مدعي علیه راجلب کول وغواړي، باید په دې برخه کې پوره همکاري ورسره وشي.

٣. نقض شوې فیصلې باید تر اصلاح وروسته بېله ځنډه بېرته مرافعه محکمې ته راولیږي، حق د اولیت باید نقضي دوسیې ته ورکړل شي.

٤. رئیس صاحبان باید خپلو قضائي او اداري مراجعینو ته بد الفاظ استعمال نه کړي.

٥. قاضي صاحبان باید د طرفینو په موجودیت کې داسې الفاظ استعمال نه کړي چې طرفین شکمن شي چې فیصله د یو طرف په ګټه کیږي.

٦. د اقرارپه صورت کې چې کله فیصله وربانډې بنأ کیږي باید صریح وي، ترتیب د اقرارخط هم باید د دوو شاهدانو په حضورکې ولیکل شي.

٧. په هره موضوع کې باید قرار صادر نه شي، شرعي فیصلې وربانډې وکړئ.

٨. چې کله فیصله نقض شوه باید نواقض یې اصلاح کړئ، داسې نه چې قرار وربانډې صادر کړئ او بندي هم خوشي کړئ.

٩. متحدالمآل مکتوبونه چې د سترې محکمې څخه راځي د هغه مطابق باید اجراآت وشي.

١٠. د خبرو توازن باید جانبینو ته د نوبت په رابطه مراعات شي.

١١. د نظرونو درناوی او د مافوق محاکمو احکامونو ته باید د قدر په سترګه وګورو. باید خپل ځانونه د مافوق مرجع په احکامو په تطبیق مکلف وګڼو.

دغه راز نومړی وویل، په محاکمو کې د کار ډېرښت ددې ښکارندویي کوي چې خلق الله او ولس د اسلامي امارت په قاضیانو د عدالت باور لري په همدې خاطر هره وړه اوغټه ستونزه تر محاکمو رارسوي او له محاکمو یې حل لاره غواړي، موږ او تاسې باید خپل مراجعین او ولس ناهیلي نه کړو او تر خپله وسه دوسیې په چټکتیا، څیرکتیا او د اسلامي شریعت په رڼا کې حل کړو.

د استیناف محکمې رئیس د ماتحت محاکمو مسؤلینو ته لارښوونه وکړه چې له خپلو قضائي او اداري کارکوونکو سره دې پوره صداقت او اخلاص کوي او د خپلو کارونو یوازینۍ موخه د الله (جل جلاله) رضا او ځورېدلي ولس ته خدمت وګرځوي.

وروسته د ماتحت محاکمو رئیسانو په نوبت خپلې ستونزې د استیناف محکمې له رئیس او د ناستې له حاضرینو سره شریکې کړې، چې د حل په موخه یې د قضائي رئیسانو ترمنځ پراخ واضح بحث ترسره شو.

په پای کې یې حاضرینو ته سپارښتنه وکړه چې قضائي او اداري منسوبین دې د خلق الله ستونزو ته د امکان ترحده رسېدنه کوي او د کارونو د چټکتیا او تنظیم لپاره به موږ ټول لازم امکانات ورته برابروو.

د ناستې په پای کې د جزاء دېوان رئیس محترم شیخ فریدالدین حقاني حاکم نظام ته د بقاء او د مسؤلیتونو د ښه ترسره کېدو لپاره دعا وکړه او ناسته پای ته ورسېده.

## د میدان وردګ ولایت استیناف محکمه کې د قضائي او اداري مسؤولینو ترمنځ غونډه ترسره شوه

د ۱۴۴۴ هـ ق کال د شعبان المعظم میاشتې په ۱۶مه نېټه د میدان وردګ ولایت استیناف محکمې په ریاست کې د یادې محکمې د رئیس محترم مولوي عبدالکریم«حقاني» په مشرۍ د همغږۍ، له یو بل سره د همکارۍ او د کارونو د چټکتیا په موخه اداري غونډه جوړه شوه.

په دې غونډه کې چې د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه، پر استیناف محکمې سربېره د ښاري ابتدائیه محکمې ټولو قضائي او اداري مسؤولینو ګډون درلود.

په پیل کې د استیناف محکمې رئیس مولوي عبدالکریم«حقاني» د غونډې ګډونوالو ته ښه راغلاست ووایه، ورپسې یې د موضوع اړوند هر اړخیزه وینا وکړه او دغه ډول غونډې یې د ستونزو د حل په برخه کې مهمې وبللې.

همدارنګه غونډې ته ګډونوالو په نوبت خپل نظریات وړاندې کړل، د همغږۍ موجودیت یې د ستونزو د حل یواځنۍ لار وبلله او ټینګار یې وکړ چې هره اداره باید د همغږۍ خپلمنځي ناستې ولري، ترڅو مسؤولین خپلې ستونزې له یو بل سره شریکې او حللارې ورته پیداکړي.

د استیناف محکمې رئیس وویل، دا چې محکمه د حقونو د لاسته راوړلو یواځنۍ مرجع ده، نو له مراجعینو سره دې قانوني او اصولي چلند وشي.

مسؤولین باید خپل مسؤولیت په واقعي توګه درک کړي، مسؤولیت ته د نه پاملرنې فرهنګ باید له منځه ولاړ شي، له هر څه سره باید سطحي چلند ونه شي، تر هغو چې ستونزه نه وي حل شوې باید په اړه یې څېړنه وشي، د اړتیا په صورت کې دې د موضوع د لا روښانتیا په موخه یو پلاوی جوړ او له اړوند ساحې دې لیدنه وکړي، په دې ډول سره به حق په پوره معنا خپل څښتن ته رسېدلی وي.

هغه زیاته کړه، ابتدائیه محاکمو ته دې د امکان ترحده د اجراآتو نواقص او نیمګړتیاوې ور په ګوته شي او په دا ډول غونډو کې دې ورته د ګډون کولو موقع ورکړه شي.

د استیناف محکمې رئیس څرګنده کړه چې هر کار د یوې موخې او هدف ترلاسه کېدو لپاره ترسره کیږي او هدف ته د رسېدو لپاره یې د پلان شتون اړین وباله.

یاده غونډه د دعاءپه ویلو سره پای ته ورسېده.

سرپرست مسئول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیټور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه ځرګندويه خپرونه
په مياشت کې درې ځله چاپيږي

## د جنوب غرب زون د تميزعالي مقام اړوند لسو ولاياتو قضائي معاونينو ته سيمينار جوړ شو

جنوب غرب زون د قضائي تعليماتو رياست لخوا د ياد زون د تميز عالي مقام اړوند لسو ولاياتونو (کندهار، هرات، هلمند، بادغيس، غور، زابل، اروزګان، دايکنډي، فره او نيمروز) قضائي معاونينو ته جوړ شوی سيمينار پای ته ورسېد.

په دغه سيمينار کې چې د ۱۴۴۴ هجري قمري کال د شعبان په لسمه پيل شو، د سيمينار ګډونوالو ته د محترمو شيوخ کرامو لخوا د اداري اصولنامې، حقوقي اصولنامې، اندارجونو، صادرې، واردې، د وثايقو لارښوود، معين القضات، شرح المجله، د فيصلو تعليمات نامه برخو کې عملي او نظري روزنه ورکړل شوه.

پر دې سربېره په دغه سيمينار کې د ځينې ستونزو او مسايلو اړوند تفصيلي او علمي بحثونه وشول.

د دغه سيمينار په پای غونډه کې چې د ۱۴۴۴ هجري قمري کال د شعبان په ۱۶مه جوړه شوې وه او د تميز عالي مقام عمومي رئيس، د قضائي تعليماتو عمومي رئيس، د ديوانونو رئيسانو او مفتيانواو د ياد رياست د دفتر رئيس په کې ګډون درلود، حاضرينو ته د عاليقدراميرالمؤمنين شيخ صاحب حفظه الله هدايات ابلاغ شول او سيمينار د دعاء په ويلو سره پای ته ورسېد.

## د قضائي پلټنې عمومي رياست مسلکي غړو د کاپيسا ولايت له محاکمو او مرکزي زندان څخه ليدنه وکړه

د سترې محکمې د محترم مقام په هدايت د قضائي تفتيش د عمومي رئيس محترم مفتي محمد ابراهيم جان (ابوالحفاظ) په مشرۍ د دغه رياست يوه پلاوي چې محترم مولوي عبدالولي (مصباح) او محترم مولوي عبدالرحمن (مخدوم) يې غړيتوب درلود، د ١٤٤٤ هجري قمري کال د شعبان مياشتې په (٨)مه نېټه د کاپيسا ولايت د محاکمو د تېرو فعاليتونو د څېړلو په موخه ياد ولايت ته سفر وکړ.

ياد پلاوي د سفر په پيل کې د کاپيسا ولايت د مرافعه محکمې له رئيس صاحب سره ليدنه وکړه؛ ورپسې يې د بنديانو د ستونزو د څېړلو په موخه د کاپيسا له مرکزي زندان څخه ليدنه وکړه او د ياد محبس نارينه او ښځينه بنديانو بشپړ شهرت، کيفيت او شکايتونه يې له ځان سره نوټ او له اړوند محاکمو سره شريک کړل.

دغه راز يې د بې برخليکه يا هغه بنديانو چې جرم يې کوچنی و او په توقيف کې يې ډېر وخت تېر شوی و د خلاصون په اړه ګډ تصميمونه ونيول.

پر دې سربېره ياد پلاوي د خپل کاري پلان له مخې د کاپيسا د شپږو ولسواليو له ابتدائيه محاکمو او د کاپيسا د مرافعه او ښاري محاکمو رياستونو له اړوند ديوانونو څخه جلا، جلا ليدنه وکړه.

د سترې محکمې د قضائي تفتيش عمومي رياست دغه پلاوي د پلټنيز بهير په ترڅ کې د يادو محاکمو د قضائي، اداري او مالي چارو هراړخيزه پلټنه ترسره کړه، د محاکمو د قضائي او اداري کارکوونکو د سلوکي او مسلکي اړخونو په اړه يې بشپړ معلومات واخيستل او د چارو د سمون په برخه کې يې ورته لازمې لارښوونې وکړې.

ياد پلاوي د محاکمو اړوند شته ستونزې او کاري خنډونه له ځان سره نوټ کړل او په لومړي قدم کې يې د ښاري محکمې په ديوانونو کې شته مشکلات د ښارې محکمې له رئيس صاحب سره شريک کړل، په دويم قدم کې يې د ستونزو د هوارې، د خنډونو د له منځه وړلو او د نيمګړتياوو د اکمال په اړه د کاپيسا ولايت د مرافعه محکمې له رئيس سره تفاهمي ناسته ترسره کړه او ټول مشکلات يې په جلا،جلا توګه ورسره شريک او لازمي توصيې وکړې.

د قضائي تفتيش دغه پلاوي د محاکمو په وړاندې شته ستونزې او د خلکو شکايتونه په دقيق او هر اړخيزه توګه وڅېړل، او د ياد ولايت د محاکمو له برحاله قضاتو، مفتيانو او محررينو څخه يې ظرفيتي آزموينه واخيسته.

د قضائي تفتيش د پلټنې پلاوي د ١٤٤٤ هجري قمري کال د شعبان مياشتې په (١٣)مه نېټه خپل سفر په داسې حال کې چې له لاسته راوړنو ډک وو، پای ته ورساوه.

## د کابل د مرافعه محکمې رئيس د دغه ولايت اړوند ولسواليو د ابتدائيه محاکمو له رئيسانو سره وکتل

د روان ۱۴۴۴ هجري قمري کال د اتمې مياشتې په ۱۴مه نېټه د کابل ولايت د مرافعه محکمې رئيس محترم مولوي عبدالشکور (رشاد آخندزاده) د کابل ولايت د ۱۴ولسواليو د ابتدائيه محاکمو له رئيس صاحبانو سره د يادې محکمې په رياست مقام کې تعارفي غونډه ترسره کړه.

غونډه د قرآن مجيد د څو مبارکو آياتونو په تلاوت پيل شوه؛ ورپسې محترم مولوي رشاد آخندزاده له ښه راغلاست او معرفت وروسته د ښاغلو رئيسانو د کاري اجراآتو او ستونزو د بيانولو غوښتنه وکړه.

ښاغلو رئيسانو د خپلو ورځنيو کارونو، د کارکوونکو د کموالي، د محاکمو مسؤولينو ته د سهولتونو، يو شمېر ضرورياتو د نشتوالي او ځينې ماهوي ستونزو په هکله معلومات وړاندې کړل .

محترم مولوي رشاد آخندزاده د کابل ولايت په محاکمو کې د هر ډول ستونزو د موجوديت په صورت کې د يادو ستونزو د حل کولو په اړه د بشپړې همکارۍ ژمنه وکړه.

د مرافعه محکمې رئيس قضاتو ته په خطاب کې وويل، قضائيه ځواک يو مستقل ارګان دی، هېڅوک حق نه لري چې په قضائي چارو کې په مستقيم يا غير مستقيم ډول لاسوهنه وکړي، قاضيان د هيڅ قانون او امر تابع نه دي مګر دا چې د اسلامی شريعت مطابق وي.

هغه زياته کړه، خپلې ټولې قضائي کړنې د اسلامي شريعت پر بنسټ ترسره کړئ، ټول هغه قوانين او شکلي اجراآت چې د شريعت سره مخالف وي بايد په جدي توګه ترې مخنيوی وشي، دوسيې بايد په خلص توګه ترتيب شي او د غير ضروري استعلامو څخه بايد مخنيوی وشي، استفتاء او فتواء بايد په رسمي ډول ترسره شي.

د کابل د مرافعه محکمې رئيس د غونډې په دوام د فيصلو ليکلو طريقې او ځينې نورو اړينو اجراآتو په هکله لارښوونې وکړې.

په پای کې تصميم پر دې شو چې دغه ناستو ته به دوام ورکوو ان شاءالله.

غونډه په دعائيه سره پای ته ورسېده.

## د سترې محکمې له لوري په قضائي تعليماتو رياست کې لس ورځنی قضائي سيمينار پيل شو

د ۱۴۴۴ هـ ق د شعبان مياشتې په ۲۰مه نېټه د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د قضائي تعليماتو رياست په تالار کې د لوګر او خوست ولايتونو د قاضيانو، مفتيانو او محررينو لپاره لس ورځنی قضائي سيمينار پيل شو .

ياد سيمينار د مفتي محمد صاحب له لوري د قرآن کريم د مبارکو آياتونو په تلاوت سره پيل شو، ورپسې د تعليمات قضائي رئيس محترم الحاج مولوي عبدالرحمن غزنوي صاحب د سيمينار ګډونوالو ته وينا وکړه.

محترم غزنوي صاحب د سيمينار په اهميت خبرې وکړې او د سيمينار شرايط، د درسونو اوعملي کارونو د مهال وېش په اړه يې وضاحت ورکړ وويل، په ياد قضائي سيمينار کې د مجربو استادانو لخوا د قضاء برخه کې پر عملي او نظري تدريس سربېره د سيمينار د ګډونوالو بېلا بېل استهداآت راټول او ځوابېږي.

غزنوي صاحب روښانه کړه چې دغه ډول سيمينارونه د قضائي کارکوونکو لپاره ډېر ګټور ثابتېږي، قضاتو ته په کارونو کې پوره تجربه او مهارت حاصلېږي، دوسيو ته پر وخت رسېدنه کولای شي او د خلکو کارونه نه ځنډېږي.

د سيمينار يو تن استاد محترم شيخ صاحب جان صاحب ګډونوالو ته په خپلو خبرو کې وويل، په دغه سيمينار کې د محاکمو قضائي غړو ته د اداري او قضائي اصولنامې، معين القضات، د وثايقو لارښود، د دعوی شرايطو او نورو برخو کې عملي او نظري روزنه ورکول کېږي.

د سيمينار يوه ګډونوال دغه ډول سيمينارونه د قضائي کارکوونکو لپاره ګټور وبلل او د قضائي تعليماتو رياست له مسؤولينو په ځانګړې ډول محترم قاضي القضات څخه د مننې ترڅنګ يې هيله مندي څرګنده کړه چې ياد سيمينارونه به د محاکمو د چارو د چټکتيا او لا بهبود سبب شي.

دغه راز د لوګر ولايت د استيناف محکمې د جزا ديوان مفتي او د دغه سيمينار ګډونوال محترم مولوي ذاکرالله قضاء د اسلامي نظام اساس او د ملا تير وباله وويل، سيمينار په ډېر ښه او مسلکي ډول پرمخ روان دي، په دغه سيمينار کې مور ته د فيصلې صادرولو ټول ضروري موارد په عملي او نظري ډول تدريس کېږي.

د يادونې وړ ده چې په ياد سمينار کې د مرافعه، ښاري او د ولسواليو ابتدائيه محاکمو ټول قضائي غړي ګډون لري چې شمېر يې تر ۱۰۴ تنه پورې رسيږي.

## پکتيا ولايت کې پنځو متهمينو ته تعزيري سزا ورکړل شوه

د چهار شنبې په ورځ(۱۴۴۴ /۸/۲۲ هـ ق) نېټه د پکتيا ولايت د مرافعه محکمې عمومي رياست لخوا د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې عالي مقام له هدايت سره سم پنځو متهمينو ته د غلا، له کوره د تېښتې، اخلاقي فساد او په ټولنيزو رسنيو کې د فاحشو عکسونو خپرولو د جرمونو پر وجه تعزيري سزا ورکړل شوه.

د يادو پنځو متهمينو چې په جلا ، جلا پېښو کې د غلا ، له کوره د تېښتې او اخلاقي فساد په جرمونو نيول شوي وو او له زور او جبر پرته يې په خپلو جرمونو اعتراف او اقرار درلود، دوسيې د پکتيا ولايت د ښاري ابتدائيه محکمې رياست د جزاء او عامه امنيت ديوانونو لخوا څېړل شوې دي.

متهمينو ته د تعزيري سزاء د تطبيق په مناسبت په جوړه شوې غونډه کې د پکتيا ولايت د محاکمو او نورو امارتي ادارو پر مسؤولينو سربېره عامو خلکو هم ګډون درلود.

په ياده غونډه کې د پکتيا ولايت د مرافعه محکمې عمومي رئيس الحاج مفتي عبيدالله (خالد)، د پکتيا ولايت مقام استازي او د نورو ادارو مشرانو اصلاحي ويناوې وکړې، وروسته د متهمينو شهرت، وصف جرمي او د هغوی د تعزير اندازه بيان او پر يادو کسانو باندې تعزيري سزاء تطبيق شوه.

غونډه د دعاء په ويلو سره پای ته ورسېده.

ميزان

د ليکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست

publication@supremecourt.gov.af

www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳